## مطبوعاتي اعلاميه
## !څوک باید غرامت ورکړي، امریکا که افغان ولس؟

د امریکا ولسمشر جوبایډن د یو فرمان په ترڅ کې د افغانستان اووه میلیارده ډالر کنګل شوې شتمني په دې ډول آزاده کړه، چې له دې جملې به ۳/۵ میلیارد ډالر د سپټمبر د یوولسمې بریدونو د قربانیانو کورنیو ته د غرامت په توګه ورکول کیږي او پاتې ۳/۵ میلیارد ډالر به د افغانستان له خلکو سره د بشري مرستو لپاره ځانګړي کیږي.

د بایډن دغه تصمیم یو وار بیا ثابته کړه چې امریکا او غرب د نړۍ او افغانستان د مسلمانانو مبدئي (ایډیولوژیک) دښمنان دي او په دې فرمان سره یې د خپلې دښمنۍ، ظلم او چور چپاول بل مخ راڅرګند کړ. په واقعیت کې امریکا په افغانستان کې له نظامي ماتې او ذلیلانه تېښتې وروسته له افغانانو څخه د غچ اخیستلو او پر افغانستان د بیاځلې نفوذ او استعمار د لارو چارو په لټه کې ده.

**﴿وَلَا يَزَالُونَ يُقَاتِلُونَكُمْ حَتَّىٰ يَرُدُّوكُمْ عَن دِينِكُمْ إِنِ اسْتَطَاعُوا﴾ [البقرة:۲۱۷]**
***دوی (کافران) به تل له تاسو سره جګړه کوي، تر څو که وتوانیږي تاسو له خپل دین څخه واړوي***

امریکا دغې موخې ته د رسېدو لپاره لومړی ګام دا پورته کړ چې د یو ډېر فقیر هېواد د پیسو ملاتړې زېرمه یې کنګل کړه او اوس په دې هڅه کې ده چې د بندېزونو، فشارونو، چور او مالي او عایداتي سرچینو د وچولو له لارې د افغانستان اوسنی حکومت کمزوری او د خپلو ارزښتې، سیاسي او استخباراتي غوښتنو منلو ته یې اړ کړي. د امریکا فشارونه یو اساسي دلیل لري او هغه دا چې د افغانستان په خاوره کې یو اسلامي ځواک او د اسلام پر بنسټ دولت رامنځته نه شي، څو دغه ځواک د کفري هېوادونو لپاره د ناهیلۍ او د اسلامي خارو لپاره د هیلو او الهام سرچینه نه شي.

امریکا د سپټمبر یوولسمې د مرموزو بریدونو په بهانه د اسلام او مسلمانانو پر وړاندې جګړه پیل کړه، د خپل دغه سیاست په پیل کې یې افغانستان اشغال کړ، له دې خاورې یې د خپلو سپکو او درنو وسلو لابراتوار جوړ کړ او د ۸۵ زره بمونو په غورځولو سره یې زرګونه کلي ړنګ او سلګونه زره انسانان تر خاورو لاندې کړل. امریکا شل کاله د افغانانو له وینو او ارزښتونو سره له لوبو کولو وروسته، دا دی اوس د دوی شتمنۍ هم ترې لوټي. په داسې حال کې، که چېرې دې قضیې ته عادلانه وکتل شي، نو امریکا باید له یو مېلیون څخه د زیاتو هغو کسانو د وژنې غرامت ورکړي چې د یولسم سپټمبر له پېښې وروسته یې «له تروریزم سره د مبارزې» تر نامه لاندې په افغانستان، پاکستان، عراق، سوریه، لیبیا او نورو اسلامي خاورو کې ووژل.

پولي استعمار د امریکایي استعمار یوه بله څېره ده. امریکا د خپل ځواک د پایښت، دوام او رشد لپاره ټوله نړۍ له ډالر سره تړلې ده چې افغانستان یې هم له پولي پلوه په دې استعمار کې راښکېل کړی دی. په داسې حال کې چې اسلام موږ ته د اشغال پر وړاندې او دغه راز د کفارو د نظم، نظام او قوانینو پر وړاندې د درېدو امر کړی، دا لاربښوونې باید په ټولو ډګرونو کې ترسره شي، تر څو مسلمانان په ټولو چارو کې د کفارو له تسلط څخه آزاد وي او هغوی پر مسلمانانو باندې د نفوذ هیڅ لار ونه لري. په نورو پورې پولي نه تړاو یوازې د اسلامي نظام په هر اړخیز تطبیق او په پولي نظام کې د سرو او سپینو زرو سټنډرډ حاکمولو سره شونی دی. له یوه اړخه دا د اسلام لاربښوونه ده او له

بله اړخه د پيسو د ملاتړي په توګه يوازې د سرو او سپينو زرو په مرسته کولی شو چې د ډالر د استعمار ورانديږ پر وړاندې ودرېږو.
په واقعيت کې همدا نړيوال نظم او نړيوال قوانين دي چې سترو قدرتونو ته دا جرأت او امکانات ورکوي چې د مسلمانانو پر وړاندې له هيڅ ډول جرم، جنايت، بنديز او فشار څخه مخ وا نهړوي. په دې توګه، په دې نظم کې وينه زبېښونکې امريکا هم شاهد دی، هم قاضي؛ هم مجرم دی او هم مظلوم.
د افغانستان اوسني رهبران او چارواکي بايد وپوهېږي چې د خلاصون يوازېنی لار د راشده خلافت تاسيس، له امت سره يووالی، د اسلام هر اړخيز تطبيق او نړۍ ته يې د دعوت او جهاد له لارې لېږد دی. افغانستان په اوسنی جغرافيا او فعلي سرچينو سره هيڅکله نه شي کولی چې په يواځې ځان د دا ډول سياسي او اقتصادي توطئو او دسيسو پر وړاندې ودرېږي. نو پکار ده چې د واحدې رهبرۍ تر چتر لاندې د افغانستان، پاکستان او منځنۍ اسيا د يووالي لپاره هڅه وشي، تر څو د عصر هغو مستکبرانو ته غاښ ماتوونکی ځواب ورکړل شي چې غواړي په يواځې سر نړۍ رهبري کړي او د نړۍ ټولې چارې په خپل لاس کې ولري.

**﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِن تُطِيعُوا الَّذِينَ كَفَرُوا يَرُدُّوكُمْ عَلَىٰ أَعْقَابِكُمْ فَتَنقَلِبُوا خَاسِرِينَ﴾ [آل عمران: ۱۴۹]**

***اې هغو کسانو چې ايمان مو راوړی! که چېرې د کافرانو پيروي وکړئ، نو دوی به مو کفر ته وګرځوي، (په دې صورت کې به له دين او ايمان څخه کفر ته په اوښتو) ډېر زيانمن شئ.***

**د حزب‌التحرير - ولايه افغانستان مطبوعاتي دفتر**